# حامد کرزی



حامد کرزی

حامد کرزی د ۱۹۵۷ م کال د ډیسمبر پر ۲۴ نېټه زېږېدلی دئ. پلارئې عبدالاحد کرزی نومېدی چي د افغانستان د ملي شورا د ریس معین (مرستیال) په توګه ئې کار کړی دئ. عبدالاحد کرزی په ۱۹۹۹م کال کي په جلا وطني کي د پاکستان د کویټې په ښار کي د نا معلومو کسانو له خوا ووژل سو.

کله چي حامد کرزی په کابل کي د حبیبیې له لېسې څخه فارغ سو، د لوړو زدکړو لپاره هندوستان ته ولاړ. هلته ئې د سیاسي علومو او نړۍ والو اړیکو په څانګه کي تحصیلات وکړل.

په ۲۰۰۱ م کال کي چي په امریکا کي د نړۍ سوداګریز مرکز د یوه برید له اثره را ونړېد، د امریکا حکومت دا کار د القاعدې له خوا وباله. امریکایانو داسي ویل چي د دې حرکت (القاعدې) مرکز په افغانستان کي دئ او باید له منځه یووړل سي.

د دې لپاره چي امریکایان دغه مرکز له منځه یوسي څکه ئې د ۲۰۰۱م کال د اوکتوبر په میاشت کي پر افغانستان بمبارۍ پیل کړلې، چي په نتیجه کي ئې پر افغانستان سختې بمبارۍ وکړلې او د طالبانو نظام له منځه یووړ.

امریکایانو د ۲۰۰۱ م کال د ډیسمبر په میاشت کي د جرمني د بُن Bonn په ښار کي د افغانستان په اړه یوه غونډه جوړه کړه. پسله ډیرو خبرو څخه د ډیسمبر په ۵ نېټه پرېکړه وسوه چي په افغانستان کي دي یو لنډ مهال حکومت جوړ سي او د ۲۹ کسیزي کابیني مشر دي ئې حامد کرزی وي. د ډیسمبر پر ۲۲ نېټه کرزی د لنډ مهال حکومت مشر وټاکل سو.

د ډاکټر نجیب الله تر واکمنۍ وروسته په افغانستان کي یو سم نظام نه وو او یوه مطلقه ملک الطوایفي روانه وه او یو منظم اردو هم نه وو. د هیواد امنیت د نړۍ والي ټولني عسکرو پر غاړه واخیست. د حامد کرزي په دغه دوره کي دغه لاندي کارونه له سره پیل سول:

۱ـ لویه جرګه جوړه سوه . د لویي جرګې د را ټولېدو په نتیجه کي د هیواد نوی اساسي قانون و لیکل سو .



۲ـ دولتي اداري ښیا فعاله سولې .

۳ـ ښوونځي او پوهنتونونه په بېرنۍ توګه فعاله سول چي کیني خوا ته ئې په کابل کي د ښوونځي د لومړۍ ورځي انځور لیدل کیږي .

۴ـ د کورنیو چارو د وزارت په چوکاټ کي د ملي پولیسو روزل پیل سول .

۵ـ د ملي دفاع وزارت له سره د صاحبمنصبانو د روزني لپاره ښوونځي او پوهنتونونه پیل کړل او د ملي اردو د سربازانو په روزلو ئې پیل و کړ .

۶ـ اولسي جرګه له سره پیل سوه .

۷ـ په هیواد کي د ښیا رغوني کارونه پیل سول .

په ۲۰۰۴ م کال کي هیواد د یوه نوي اولس‌مشر د انتخاب لپاره اماده سو . په دغو عمومي انتخاباتو کي چي د هیواد نارینوو او ښځو ګډون کړی وو کرزی د ډیرو رایو د تر لاسه کولو په نتیجه کي د ډیسمبر پر ۷ نېټه د افغانستان د انتخابي اولسمشر په توګه و ټاکل سو .



حامد کرزی د لومړي انتخابي ولس‌مشر په توګه د لوړي په مراسیمو کي

د حامد کرزي دغه دوره له ډیرو ستونزو ډکه وه. په هیواد کي د طالبانو او نورو نا راضیانو شخړي او ځانمرګي بریدونه مخ پر زیاتېدو سول. سر بېره پر دې چي د خیانت ، رشوت (بډې) اخیستل ، اختلاس، قاچاق ، د مخدره موادو کښت ، سیاسي او قومي مخالفتو او نورو مشکلاتو مخنیوی یو مشکل کار وو ، خو ښیا هم دې دورې یو شمېر لاسته راوړني هم درلودې.

لاسته راوړني ئې لکه:

۱ـ د مطبوعاتو ازادي

۲ـ د معارف او ښوونځیو پراخېدل



۳ـ د ښځو د حقونو ساتل ....

په دغه دوره کي ئي د طالبانو هغه سپين بيرغ بيرته له منځه يو وړ او پر ځاى ئي د افغانستان هغه پخوانى (تور، سور او زرغون) بيرغ په لږ توپير منځته را ووړ.

ورو ورو د نړۍوالي ټولني او کرزي د حکومت تر منځ مخالفت لوړتريني نقطي ته و رسيږ. د نړۍ والو ځواکنو له خوا پر ملکي خلکو باندي بمونه اچول او خلک له کورونو څخه ايستل او د هغو وژل په زياته بيا د امريکايانو اه خوا د دي دورې يوه لويه ستونزه وه.

حامد کرزي د خپلي انتخابي ولسمشرۍ په دغه لومړۍ دوره کي د بهرنيو مرستندويو هيوادو د لاس وهنو څخه شکايت وکړ.

د ۲۰۰۹ م کال د اګست په مياشت کي په افغانستان کي د اولسمشرۍ د يوي نوي دوهمي دورې لپاره انتخابات وسول. دي انتخاباتو ته ډيرو زياتو خلکو ځانونه کانديد کړي ول. د دغو خلکو له جملي څخه يو هم د افغانستان د بهرنيو چارو پخوانى وزير عبدالله وو.



عبدالله عبدالله

په دغو انتخاباتو کي د جعلکاريو او درغليو خبري را پورته سولي. د دي خبرو نتيجه داسي سوه چي دغه انتخابات بايد له سره وسي.

دا چي دغه کار د زياتو ستونزو لکه: اقتصادي، امنيتي او نورو ډک يو کار وو نو په نتيجه کي د حامد کرزي لوى حريف عبدالله عبدالله تر خپلو کانديديدو تېر سو او حامد کرزى د نورو پنځو کلونو لپاره برياڵى اعلان سو.

ولسي جرګي ته د نوي حکومت د وزيرانو د معرفي پر وخت يو زيات شمېر وزيران و نه توانيدل چي له ولسي جرګي څخه د اعتماد رايي تر لاسه کړي.

تر دي وروسته حامد کرزي او نړۍوالي ټولني موافقه وکړه چي د هيواد امنيتي چاري دي په کراره کراره افغاني ځواکونو ته و سپارلي سي.

په کراره کراره دي تر ۲۰۱۴ م پوري د هيواد د امنيت ساتل په بشپړه توګه د افغاني ځواکونو پر غاړه و لوېږي.

د حامد کرزي په دوهمه انتخابي دوره کي امریکایانو غوښتنه و کړه چي په افغانستان کي د یوې اوږدې مودې لپاره پاته سي. دې غوښتني ته د جواب ویلو لپاره حامد کرزي یوه دودیزه لویه جرګه را و بلله. دغه جرګې چي په ۱۶\۱۱\۲۰۱۱ م کي جوړه سوه مشورتي بڼه لرله او نژدې ۲۰۰۰ کسانو ګډون پکښې درلود.

د دودیزې لویې جرګې غړو په ۷۶ مادو کي د افغاني لوري د یوه پرېکړه‌لیک له لاري چي له امریکایانو سره د امنیتي تړون په اړه وو موافقه و کړه. په دې پرېکړه‌لیک کي د افغانستان بشپړه ازادي د ځلانده لمر په شان د ټولو ګډون کوونکو غوښتنه وه.

د بُن د لومړي کنفرانس څخه پوره لس کاله وروسته د ۲۰۱۱ م کال د ډیسمبر پر ۵ نېټه د افغانستان په اړه د بُن دوهم کنفرانس جوړ سو.

په دغه کنفرانس کي د نړۍ د زیاتو هیوادو استازو ګډون درلود. د دغه کنفرانس هدف دا وو څو و کتل سي چي له لومړي کنفرانس څخه تر اوسه کومي لاسته راوړني سوي دي او هم که تر ۲۰۱۴ م کال پوري د افغانستان څخه بهرني ځواکونه و وزي څه به پېښ سي.

په دغه کنفرانس کي د لومړي کنفرانس په شان د طالبانو استازو ګډون نه در لود. پاکستان هم چي ګډون ئې ضروري وو، ګډون و نه کړ.
د بن د کنفرانس ځیني انځورونه:





د دغه کنفرانس په نتیجه کي افغاني چارواکو ته دا لاندي ټکي ور په ګوته سول:

* په هیواد کي د ښه حکومت کولو منځته راوړنه
* د اداري فساد مخنیوی

* د امنیت را وستنه
* د مخدره توکو له منځه وړنه او ځیني نور.

پسله دغو پنځو کلونو د اساسي قانون پر بنسټ د حامد کرزي د اولس مشرۍ دوهمه دوره پای ته و رسیږده او هیواد د یوه نوي اولسمشر انتخاب ته تیاري پیل کړه.

**پوښتني:**

۱ـ د افغانستان د لنډ مهال حکومت د مشرۍ لپاره څرنګه او ولي حامد کرزی انتخاب سو؟
۲ـ د حامد کرزي لومړۍ دوره ولسمشري څرنګه تېره سوه؟
۳ـ کرزي ولي په خپله لومړۍ دوره ولسمشري کي د مرستندویو بهرنیو هیوادو څخه شکایت و کړ؟
۴ـ د حامد کرزي دوهم ځل انتخابېده د ولسمشر په توګه څرنګه و سوه؟
۵ـ کله چي حامد کرزي د خپلي ولسمشرۍ په دوهمه دوره کي خپل نوي وزیران ولسي جرګې ته د باور د رایو د تر لاسه کولو لپاره معرفي کړل. ولسي جرګې ولي هغوی ته رایي ور نه کړې؟
۶ـ افغانستان چي نن له یوې خوا د ګاونډیو او نورو بهرنیو هیوادو د دلچسپۍ میدان دئ او له بلي خوا د یو شمېر خپلو خلکو د بې پروایۍ او خیانت میدان دئ. ایا فکر کولای سئ چي حامد کرزی به دغو ټولو ستونزو ته د حل یوه لاره و مومي؟

# محمد اشرف غني احمدزی

محمد اشرف غني احمدزی د شاه جهان احمد زي زوی دئ. دی ۱۳۲۸ ل کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د کابل د حبيبيې په لېسه کي ئې زدکړې کړې دي. د لېسې په دوره کي ئې يو کال د امريکا د متحده ايالاتو د AFS تر يو کلن پروګرام لاندي زدکړې کړې دي.



اشرف غني

اشرف غني ډېرې لوړې زدکړې لري چي د هغو له جملې څخه ئې:

ليسانسه: د بيروت له امريکايي پوهنتون څخه د سياسي علومو په څانګه کي اخيستې ده.

درې مختلفې ماستری او دوکتورا ئې په يو شمېر بهرنيو هيوادو کي اخيستې دي.

دندې ئې:

اشرف غني د ډنمارک د اروس(اوغوس)، د امريکا د بکلي او جانزهويکنز په پوهنتونونو کي د استاد په توګه دنده تر سره کړېده.

د نړيوال بانک د ستراتيژۍ او کړنلارې د جوړولو په برخه کي د ريس په توګه کار کړی دئ.

د ۲۰۰۱م کال د سپتمبر له ۱۱ وروسته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو استازي(اخضر ابراهيمي) د سلاکار په توګه دنده تر سره کړې ده.

مېرمن ئې چي له اصله لبنانۍ ده(رولا غني) نومېږي. يو زوی او يوه لور لري.

اشرف غني له ولسمشر حامد کرزي سره په منځ مهاله حکومت کي يو ځای سو، په دغه موده کي د افغانستان او نړۍ په اړيکو کي مخکښ کس شمېرل کېدی.

د سترو نړۍ والو مرستو په را غونډولو کي اغېزمن کس وو.

له ۲۰۰۲ م کال څخه تر ۲۰۰۴ پورې ئې د افغانستان د مالي د وزیر په توګه کار وکړ. ده په دغه وزارت کې لوی بدلونونه را وستل. په سیمه کي د ترټولو غوره محاسب په نوم یاد سو.

د کابل پوهنتون د ریس پر وخت ئې زیاتي سمووني وکړلې، چي د پوهنتون چاپېره دېوال هم د ده کار وو.

په ۲۰۰۹ م کال کي ئې ځان اولسمشریزو ټاکنو ته کاندید کړ، خو بریالی نه سو.

د څه مودې لپاره له حکومتي چارو څخه لیري پاته سو. د اولسمشر کرزي په دوهمه دوره کي ئې له بهرنیو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د امنیتي مسئولیت د لېږد د بهیر مشر و ټاکل سو. په همدغه موده کي ئې د افغانستان ۳۴ ولایتونه بیا بیا و لیدل او له خلکو سره ئې اړیکي ټینګې کړلې. کېدای سي چي په دغو لیدنو کتنو کي به ئې د را تلونکو اولسمشریزو ټاکنو لپاره له خلکو سره اړیکي نیولې وې، چي ښايي دغه لیدني کتني دي د ده د ولسمشریزو ټاکنو د ګټلو لامل سوې وي.

# د محمد اشرف غني لومړۍ ځل اولسمشري

محمد اشرف غني په ۲۰۱۴م کال کي د دوهم ځل لپاره بیا د اولسمشرۍ په انتخاباتو کي ځان کاندید کړ . په دغه دوره کي ئې عبدالرشید دوستم لومړی او سرور دانش دوهم مرستیالان ټاکلي ول.

په دغو انتخاباتو کي د ۸ ګډون کوونکو له جملې څخه هیڅ یوه لا ۵۰٪ رایي پوره نه کړلې، ځکه انتخابات دوهم پړاو ته ولاړل.

دا چي په دغو انتخاباتو کي اشرف غني او عبدالله تر نورو ډېري رایي وړي وې، ځکه انتخابات د دوی دوو تر منځ دوهم پړاو ته ولاړل. په دغه پړاو کي د اشرف غني لوی رقیب عبدالله عبدالله وو. په دغو انتخاباتو کي اشرف غني ۵۶، ۴۴ په سلو کي رایي یو وړلې. سربېره پر دې د عبدالله عبدالله د مخالفت له امله اشرف غني ګټونکی نه سو. د دوی دوو تر منځ مخالفت ډېر جدي وو. څو په پای کي د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان



کیري د اشرف غني او عبدالله تر منځ د نیم نیم قدرت پر سر جوړه ور و کړه او یو دوه سری حکومت ئې را منځته کړ.

اوس نو د امریکا هغه غوښتنه چي د مخکني اولسمشر حامد کرزي څخه ئې کړې وه، اشرف غني ته ور پاته سوه. هغه دا چي افغانستان به له امریکا سره په افغانستان کي د یوې اوږدې مودې لپاره امنیتي تړون امضا کوي. د دغه امنیتي تړون له لاري به د امریکا سرتیري د یوې اوږدې مودې لپاره په افغانستان کي پاته کیږي.

اشرف غني له ناچارۍ له امریکا سره امنیتي تړون امضا کړ.

سربېره پر نا امنیو او په حکومت کي د عبدالله عبدالله ګډون بیا هم اشرف غني یو شمېر لاسته را وړني لرلې.

یو بل مهم کار چي اشرف غني تر سره کړ، هغه د بلخ له ولایت څخه د عطا محمد نور ګوښه کول وو. عطا محمد چي د بلخ د امپراتور په نامه مشهور وو د اشرف غني څخه د یو شمېر غوښتنو په تر سره کولو د دغه ولایت څخه ګوښه کېدل و منل. هغه غوښتني البته د یو شمېر والیانو او وزیرانو مقرري وه د عطا محمد نور له خوا.

## د محمد اشرف غني دوهم ځل اولسمشري

اشرف غني په دغه دوره کي امرالله صالح خپل لومړی مرستیال او سرور دانش دوهم مرستیال غوره کړي ول.

اشرف غني بیا د دوهم ځل لپاره ځان اولس مشرۍ ته انتخاب کړ. په دغه دوره کي بیا هم عبدالله عبدالله د اشرف غني لوی حریف (سیال) وو. په دغو انتخاباتو کي چي کله د انتخاباتو کمیسون اشرف غني د انتخاباتو ګټونکی اعلان کړ عبدالله او ملګرو ئې د اشرف غني دغه بریا و نه منله. هغه وو چي عبدالله له ډېرو منابعو څخه مرسته و غوښته، خو

دا ځل ئې کومه ژر نتیجه و نه لیده. هغه وو چي عبدالله د اشرف غني د لوړي د مراسیمو تر څنګ په ارګ کي خپل پلویان را ټول کړي ول او د افغانستان د اولسمشر په توګه ئې لوړه و کړه.

په دوهمه دوره کي اشرف غني تر عبدالله عبدالله زیاتي رایي یوړلې، خو دا ځل بیا هم عبدالله په رایو کي د غلطۍ په سبب اعتراض و کړ او د رایو شمېرنه بیا له سره و سوه. دا ځل بیا هم عبدالله عبدالله انتخابات نا سم و بلل، څو په پای کي د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د اشرف غني او عبدالله تر منځ په پنځوس پنځوس جوړه ور وکړه او حکومت ئې د ملي یووالي په نامه یاد کړ.

عبدالله عبدالله د ملي یو والي د حکومت د اجرائیه ریس په نامه دنده پیل کړه. پدغه حال کي نیم شمېر وزیران د اشرف غني او نیم شمېر د عبدالله له خوا و ګمارل سول. پدغه وېش سره اشرف غني و نه کولای سول چي خپل پلانونه په سمه توګه عملي کړي.

دې کار هم زیاتي ستونزي را پورته کړلې، څو هغه وو چي اشرف غني عبدالله عبدالله له طالبانو سره د سولي د کمیسون د مشر په توګه و مانه. سربېره پر دې باید په حکومت کي نیمی وزیران د اشرف غني او نیمی وزیران د عبدالله له خوا و ټاکل سي. دغه کار بیا هم د اشرف غني ازادي له منځه یوړه او په ایله لاسو د هغو کړنو عملي کولو ته پاته نه سو کوم چي ژمنه ئې کړې وه. د اشرف غني په دغو دواړو دورو کي په هیواد کي د طالبانو، داعش او نورو ګروپونو له خوا بې امني او ستونزي وي. ده سربېره پر دغو ټولو ستونزو د ابادۍ په برخه کي یو شمېر پر مختګونه و کړل. یو لوی کار ئې د کمال خان د اوبو د بند پرانیستل وه.






د اشرف غني په دغه دوره کي د امریکا اولسمشر ترمپ تصمیم و نیوی چي خپل ځواکونه له افغانستان څخه و باسي. د دې کار له پاره ئې ببله دې چي د افغانستان له حکومت سره هم خبري و کړي ، ځلمی خلیلزاد ئې له طالبانو سره د سولي او جوړي خبرو ته ور واستاوه.

امریکا له طالبانو سره د سولي په اړه ډیري خبري و کړلې ، خو طالبانو ببله سولي د هیواد ۳۳ ولایتونه د جګړې له لاري و نیول. کله چي طالبان د کابل دروازې ته را و رسېدل ، اشرف غني د دې له پاره چي د جنګ او ورانۍ مخ و نیسي نو ئې د ۲۰۲۱ م کال د اګست پر ۱۵ کابل طالبانو ته پرېښود او له هیواده ووت. طالبان په دغه ورځ کابل ته را ننوتل او کابل ئې و نیوی.

لیکونکی : عبدالعلي رسولزاده
alirasulzada@hotmail.com
www.pashto.se
0046709384755